(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠٠٦) سال هژدهم شماره (٩٢) دوشنبه (٨) عقرب ١٣٧٤ هـ .ش ٦ جمادي الثاني ١٤١٦ هـ .ق ٣٠ اکتوبر ١٩٩٥ م

دهیواد برمیال غازی دګرجنرال محمد غیور شهید شو

په خواشیني سره موخبرترلاسه کړچي دهیواد برمیال غازي ، دبغلان په ولایت کي دحزب اسلامي افغانستان فعال اوزړور قوماندان دګرجنرال محمدغیور دجهاد ددښمنانو دېوی خاینانه توطیي په ترځ کي له خپلو (١٥) تنو ملګروسره دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

دسمنګانویه ولایت کي دحزب اسلامي افغانستان یوه مسئول خبرځای تیره شپه شهادت ته دیوه مخابروي تماس په ترځ کي ددي ناوړه اوغمجني پیښې دتفصیلاتو په اړه وویل : زموږ دجهاد ځلانده ستوري قوماندان غیورله خپلو یوشمیر مجاهدینو سره مزارشریف ته روان و چي دقوماندانانو په یوه جلسه کي ګډون وکړي . خود سمنګانو ولایت

دحضرت سلطان ولسوالي پله ته نژدي دجهاداوملت دقسم خوړلو دښمنانو له یوه ناببره کمین سره مخامخ شو، چي ددغې په ترځ کي دګرجنرال محمدغیور اوورسره (١٥) تنه ملګري یې په شهادت ورسیدل .

دسمنګانو ولایت دغي مسئولي منبع همدارنګه وویل : شهید دګرجنرال محمدغیور اوورسره ملګري یې دښمني

په ورځ دماسپښین په یوه بجه دحضرت سلطان په ولسوالي کي دروسانوپخواني قرارګاه ، ترڅنګ ددښمن له وسله وال کمین سره مخامخ شول، دجګړي په نتیجه کي دقوماندان غیور (١٥) تنه ملګري په شهادت ورسیدل او ځلورتنه نورټپیان شول.

(٤)مخ

استاد سیاف مشرقی شوری ته په وینا کی :

له استاد ربانی اومسعود سره په اخلاص ولاړیم ، دطالبانو به ترپایه په ټول طاقت مقابله کوو

طالبان به په کابل کی دککرو په انبارونو اووینو په ډندونو اوری

که له خپل یوه زوی عبدالستار سره یواځی پاتی شم ، بیا به هم دظاهرشاه په خلاف جنګیږم

محمود مستیری ته دسلطان محمود غازی نوم استاد ربانی ورکړی

جلال آباد - دلړم ٧ مه :

له جلال آباد ته دشهادت ، ځانګړي خبریال ریوټ راکوي چي پرون سهار په ننګرهار کي نهریجودی» الحاد » مشر استاد «سیاف » جلال آباد ښارته نژدي په «فارم هده » کي دمشرقي شوري له غړیو سره غونډه وکړه اوهغوي ته ئي وویل چي « ترټولو دمخه باید داواضح کړم چي دلته به زمارانګ زموږ کمزوري ته ګني،زه ددي لپاره راغلي یم چي دقضیي دحل لپاره یوه مناسبه لارراوباسو.

زه تاسي ته بلکه دروکوم چي کابل ته راشي، هلته به په ګډه بدلون راولو. امنیت به تأمین کړو اودټولو جهادي تنظیمونو په خوښه په یوه مجاهد عالم شخصیت ته قدرت وسپارو . »

استاد سیاف ځرګنده کړه چي « زه له استاد رباني اومسعودسره په اخلاص ولاړیم ،دطالبانو به ترپایه په ټول طاقت مقابله کوو، هغوي باید په دي پوه شي چي په کابل کي به دککریویه انبارونو اووینو په ډنډونو واوري . »

نوموړي زیاته کړه چي « موږ به دزور په نتیجه کي چاته دقدرت سپارلو نه چمتونشو خودتفاهم له لاري او دټولو تنظیمونو په موافقه هره لحظه دواک انتقال ته تیاریو »

استاد «سیاف» داهم وویل چي « استاد رباني» په دي نظردي چي کیداي شي په ظاهرشاه توافق وشي، تردي چي محمودمستیري ته په لست کي دظاهرشاه دتره دزوي سلطان محمودغازي نوم هم استادرباني ورکړي، خوموږیه « استاد رباني » له ظاهرشاه سره روغي نه پریښودو، اوترکومه چي شخصاً په ماپوري اړه لري توکه له خپل زوي عبدالستار سره یوځاي پاتي شم ، بیا به هم دظاهرشاه پرخلاف جنګیږم .

دحزب اسلامی مجاهدینو دیولړعملیاتو په ترځ :

دغوربندولسوالی دمیرن خیلو اوملاخیلو سیمی تصفیه کړی

پروان - دلړم ٧ مه :

دغوربند ولسوالي دقمچاق په سیمه کي دحزب اسلامي افغانستان اودکابل اداري دځواکونو ترمینځ جګړه ادامه لري

دحزب اسلامي دوسله والو ځواکونودقوماندانانو یوي منبع شهادت ته په خپل مخابروي ریوټ کي وویل پرون مازدیګر دحزب اسلامي مجاهدینو دنوموړي ولسوالي د قمچاق پرسیمي باندي خپل تصفیوي عملیات پیل کړل چي دهغي په نتیجه کي د میرن خیلو او ملاخیلو سیمي دکابل داداري له ځواکونوڅخه په بشپړه توګه تصفیه شوي اوددښمن ځواکونه دنوموړي سیمي ته په تیښته بریالي شول .

ریوټ کي ویل شوي ، په دغو عملیاتوکي دښمن ته دسر اومال دروزیات تاوان وراوښتي خودقیق معلومات یې تراوسه پوري نه دي رسیدلي

نمایندګی حزب وحدت اسلامی درپشاور

ادعای ادارهٔ کابل درموردتصرف دوباره "کتارخاك" دروغ است

پشاور - ٧ عقرب :

ادعاي اداره کابل درمورد بازپس ګیري مناطق کتارخاك وشبیرکاملاً غلط وبی بنیاد است .

مسئول نماینده ګي حزب وحدت اسلامي درپشاور این ادعاي اداره ائتلافي واجیران آنرا مبني براینکه ګویا آنهامناطق کتارخاك وشبیر را دوباره تصرف کرده اند تکذیب نموده وآنرا عاري ازحقیقت خواند .

مرزائي در رابطه به ادامه جنګ درکتارخاك واطراف آن ګفت : مدت سه روزقبل جنګ میان طرفین به شدت جریان داشت که درنتیجه آن ده نفر ازافراد اداره کابل کشته وچهل تن دیګرآنها به شمول سه قوماندان مشهوراسیرشده اند .

موصوف افزود : خبرنګاران میتوانند تاآز خطوط مقدم جبهه دیدن نموده واوضاع را ازنزدیك مشاهده نمایند. وی علاوه کرد اداره کابل باهمچوتبلیغات میخواهد مورال افرادشکست خورده خود را تقویه کند. همچنان نامبرده ګفته که طي دو روز ګذشته جنګ هاي پراګنده یی درمناطق مذکور ادامه داشته است .

مولوی محمدی اومولوی خالص دشمشاد په خبروکی برخه واخیستله .

په غونډه کی حاجی دین محمد ، مولوی فضلی ، قاضی "وقاد" حاجی قدیر ،مولوی ارسلا "رحماني" ، اومولوی سمیع الله نجیبی هم ګډون درلود.

شمشاد دلړم ٧ مه : دشهادت " خبریال "

پرون دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان امیر مولوی محمد نبی محمدی له خپلو ملګروسره یوځای له پیښور ته ننګرهار ته ولاړ او په شمشادغره کی یې له استاد "سیاف " اومولوی محمد یونس خالص سره په خبرو اترو کی برخه واخیستله .

داخبری چی ماسپښین شروع شوی اوترناوخته روانی وی ، داستاد سیاف په ملګرو محمدزمان "مزمل" ،داکتر عبدالله اوصدیق چکری برسیره ، حاجی دین محمد ، مولوی محمدشاه فضلی ، قاضی محمد امین وقاد ،حاجی عبدالقدیر ، مولوی ارسلا "رحمانی " اومولوی سمیع الله "نجیبی " هم پکی ګډون کړی ؤ.

انفجارمهیبی مکرویان (٤) را تکان داد

کابل - ٧عقرب :

یك منبع نزدیك به اداره کابل ګزارش داد که دیروز ساعت یك ونیم بعدازظهر درمنزل بخارخانه مکرویان چار که ازآن جهت ګرم ساختن بلاك هاي مربوط استفاده مي شود، انفجارمهیبي رخ داد که خسارات مالي زیادي وارد ساخته است .

منبع افزود تاکنون از میزان دقیق تلفات وخسارات احتمالي معلوماتي دردست نیست .

همچنان جنګ میان طالبان واداره کابل درقسمت غرب وجنوب جریان داشت، ګرچه درګیري درین دوجبهه نسبت به روزهاي قبل خفیف بود اما دراستقامت غرب کابل جنګ شدیدتري نسبت به سمت جنوب درجریان بود. بهرحال شهریان کابل روزګذشته آرام ترین روزهارادرطول دوسه هفته اخیر پشت سرګذاشتند اما آواز آتشباري وقفه اي اسلحه ثقیل درشهر بګوش مي رسید.

کارمندان استخباراتی ایران در روسیه تربیه میشوند

پشاور - ٧ عقرب :

قرارمعلوم همکاري بین شبکه هاي جاسوسي واستخباراتي ایران وروسیه وسعت بیشتر اختیارکرده است وصدهاتن ازکارمندان سازمان هاي اطلاعاتي وجاسوسي ایران تحت نظر ماهرین روسي تربیت مي شوند .

به اساس ګزارش روزنامه جنګ (٢٩ اکتوبر) یك جریده فرانسوي بنام (انتلي جنس نیوزلیتر) این مطلب رافاش ساخته است .

درین ګزارش آمده است که پنجصد ایراني غرض تربیت به مسکو فرستاده شده بودند که دوصدوپنجاه تن آنهابعداز فرا ګرفتن تعلیمات جاسوسي درماه ګذشته دوباره به ایران برګشته اند . براساس ګزارش نیوز لیټر جانب روسیه آماده شده است افراد اداره امنیتي ایران را مدت شش ماه دیګرتربیه کند.

حاجی عبدالقدیر استاد سیاف ته په خبرو کی :

زه دیخوا په خیر ددولت په اوسنیو هڅو هم داډ نه لرم

که مخلص یاست ، نو همدا اوس هیئات تاکو ، پلچرخی اوبندغازی مشرقی شوری ته وسپاری

جلال آباد -دلړم ٧ مه .

له جلال آباد نه دشهادت ځانګری خبریال لیکی چی دمشرقی شوری رئیس اودننګرهار والی حاجی عبدالقدیر پرون په هغه غونډه کی چی " په فارم هده " کی جوړه شوی وه استاد "سیاف " ته وویل چی باید مسئله ژر حل شی ، اوجدی اقدامات وشی . متاسفانه دافغانستان له قضیی نه یوه داسی معما جوړه شوی چی کله پرکابل باندی شرایط تنګ شی نو دمسئلی دحل په نوم سیاسی هلی ځلی شروع شی . زه اوس هم دیخوا په خیر ددولت په اوسنیو هڅو داډه نه یم . باید دمشکل دحل لپاره لنډه لاروڅیوله شی . لنډه لارداده چی استاد ربانی بی له قیدوشرطه خپل واك یوه داسی دینی عالم ته وسپاری چی منازعه پکی نه وی. که دا کاروشی موږ هرراز همکاری ته تیاریو. که تاسی په دی لار کی مخلص یاست ،همدااوس به هیئات وتاکو چی کابل ته ولاړشی اودعملی اقدام په توګه دی پلچرخی اوبندغازی مشرقی شوری ته وسپارل شی .

دپاکستانی مطبوعاتو د ریوټ په اساس

دکابل اداری یوه ډله روزل شوی تخریب کاران پاکستان ته داخل شوی

پیښور - دلړم ٦ مه :

دپاکستان اوکابل اداري داړیکو ترخرابیدو وروسته دالومړي ځل دي چي دپاکستان امنیتي ځواك ددواړو هیوادو په پوله کلك امنیتي تدابیروضع کړي دي .

دپاکستان دجنګ ورځپاڼي دخبرپه اساس : امنیتي تدابیر دیولړ تخریبي عملیاتو دمخنیوي په غرض نیول شوي اوټولي هغه لاري ترکلکي څارني لاندي نیول شوي ، چي له افغانستان نه پاکستان ته پري تګ راتګ کیږي .

ورځپاڼه دیوي معتبري سري شبکي په قول لیکي : د« سی ،آی ، ډي » پولیسو دنامعلوموتخریب کارانوپرخلاف دوسیه پرانستي او لټون ئي پیل کړي ، چي دتخریبي عملیاتو له پاره پاکستان ته داخل شوي افراد ګرفتار کړي .

له بلي خواپاکستان خپلوامنیتي اداروته هدایات کړي ،چي هرڅومره ژرکیداي شي تخریب کاران کشف اوګرفتارکړي .

پولیسو دافغانانو څارنه پیل کړي اودهغوافغانانو په باب معلومات راټولوي چي بی ځایه ګرځي راګرځي .

رابن رافل، ازمزارشریف به جلال آباد برګشت

جلال آباد ٧ عقرب

رابن رافیل معاون وزارت خارجه امریکا وارد افغانستان شده است تاباقایندګان احزاب وګروه هاي درګیر درقضیه افغانستان ملاقات نماید.

به اساس ګزارش رسانه هاي خبري خانم رابن رافل که مسئول جنوب آسیا وافغانستان دروزارت خارجه امریکا نیز میباشد اکنون پس از سفر به مزارشریف وارد جلال آباد شده ودرصورت بهتر بودن شرایط امنیتي درجریان هفته وارد کابل نیز خواهد شد . وی در مزارشریف باسران جنبش ملی صحبت نموده وراه هاي حل قضیه افغانستان را با اتحادومیان ګذاشت،

درګزارش ګفته شده که خانم رابن رافیل طرح مشخص راجع به حل بحران افغانستان نداشته ولي وی از تلاش هاي محمود مستیري نماینده سازمان ملل متحد درامور افغانستان جانب داري میکند.

هدف عمده خانم رابن رافل ازاین سفر اینست تا از نزدیك بارهبران احزاب ملاقات

ص(٤)

شاه محمود (پوپل) باهفت تن ازسرګروپانش ، اعدام شد

شاه محمود «پوپل » یکتن ازقوماندانان اداره کابل درمحاذجنوب باهفت تن ازسرګروپانش اعدام شد .

منابع نزدیك به اداره کابل میګویند که نامبرده بجرم دست داشتن درسقوط چهارآسیاب، بدست مسعود رئیس شوراي نظار اعدام شد .

منابع مذکورمیګویند که قبل ازحمله اخیرطالبان بالاي کابل مسعود به نیروهاي تحت فرمان خود به قوماندان شاه محمود دستورداده بودتابه یك حمله تعرضي دست بزنند که درجریان انجام همین عملیات شاه محمود درمنطقه ګمران ولسوالي محمدآغه بدست طالبان اسیرشد،

نامبرده دربدل رهایي اش به طالبان تعهد سپردکه درهنګام حمله طالبان به کابل بااستفاده ازموقعیت اش درخط مقدم جنګ، زمینه ورود طالبان به چهارآسیاب وحتي شهرکابل رافراهم مي کند که طالبان نیزپس ازجلسه مشورتي به رهایي وي توافق نشان دادند .

منابع مذکور مي افزاید که درهنګام حمله طالبان بالاي قواي اداره کابل جهت تصرف شهرکابل ،شاه محمودبابك عقب نشیني ازقبل تنظیم شده به قواي طالبان راه داد تاسرانجام طالبان توانستند بایك حرکت سریع شب چهارشنبه ١٣ میزان خودرا به چهارآسیاب وتپه هاي خیرآباد برسانند .

پس ازانجام این کارمسعود شخصاً

ص(٤)

ادارهٔ خودمختار فلسطین خواستار اجلاس عاجل سران کشور های اسلامی ، جامعه عرب وکمیته القدس شد

شهرغزه - ٦ عقرب :

اداره خودمختار فلسطین خواستار اجلاس اضطراري سران ونمایندګان کشورهاي اسلامي وعربي شدتادرمورد راي کنګرس امریکامبني برانتقال سفارتخانه این کشور از تل ابیب پایتخت اسرائیل به بیت المقدس تصمیم لازم بګیرند .

براساس ګزارش خبرګزاري فرانسه سران اداره خودمختار فلسطین روزشنبه دراجلاس شان درشهرغزه همچنان خواستار جلسه مشترك سران کشورهاي عضو جامعه عرب وکمیته القدس شدند . کمیته القدس ازطرف کشور٤٤ عضو سازمان کنفرانس اسلامي بخاطر اجراي قطعنامه هایي که درمورد بیت المقدس صادرشده تشکیل ګردیده که ریاست آنرا اکنون ملك حسن دوم شاه مراکش بدوش دارد .

دربیانیه اي که بعدازراي دهي مجلس سناي امریکا روزسه شنبه صادرشده اداره خود مختار محکوم و به شدت تقبیح شده وناقض همه قطعنامه هاي سازمان ملل توصیف شده است .

کنګرس امریکا بااکثریت آراء به انتقال سفارت این کشور ازتل ابیب به بیت المقدس دراخیربرج مي سال ١٩٩٩ راي

ص(٤)

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون: ٢٥٦٣٧٨٩
آدرس پستی: ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

د «شمشاد» ناستي ولاړي

استاد«سیاف » دکابل دیوه هیئات په سرکي کله جلال آباد ته بیار ته نژدي اوکله دشمشاد په غره کي په سیاسي فعالیت لگیادي، تردده دمخه دصدیق چکري په مشري هیئات څوواري جلال آباد ته راغي اوځوځله بیرته ولاړ.

څوورځي دمخه «شهادت » په جلال آباد کي دکابل دهیئات دهلوځلو په برخه کي په یوه تبصره کي لیکلي وو چي اصلاً ددي کارلپاره دکابل اداري مناسب سړي استاد«سیاف » دي، داچي ولي استاد سیاف په هغه وخت کي نه وراليږل شوي یا نه وراغلي څه دلایلوته اشاره شوي وه .

په هرحال اوس چي استاد «سیاف » جلال آبادته دخپل راتګ په لارکي موانع اواحتمالي خطرونه لري شوي لیدلي ، دادي په ننګرهار کي له خپلو ټولو مهارتونو سره دنظار شوري په خدمت کي دي .

استاد «سیاف» په مشخصه توګه غواړي چي داذهنیت کمزوري کړي چي دکابل اداره یواځي ده ، ټول قوتونه ئي پرضد دي، که نن وي که سبا نسکوریږي به اویالاخره داچي دهیڅ سیاسي مانور او معاملي کولو فرصت اوزمینه ورسره نشته .

هغه غواړي چي مولوي صاحب «خالص » اومولوي صاحب محمدنبي «محمدي» په خبروکي مصروف وبښي اوکه په دي بریالي شي چي دقدرت دانتقال اویامذاکراتو دوروستي پړاو دبشپړیدو په نامه ئي کابل ته یوځي نوداخو ورته لوي بري دي .

په دي علاوه هڅه کوي چي مشرقي شوري بې طرفي ته وهڅوي، اوپرینږدي چي نوموړي شوري دطالبانو اوهم آهنګي شوري داحتمالي نژدي کیدوپه صورت کي له هغوي سره ودریږي اودکابل اداري په خلاف په عملي اقدام کي ونه واخلي .

دکابل اداري ته په اوسني حالت کي په دي دواړو برخوکي بریالي ګام پورته کول وړوکي موضوع نه ده .

داسمه ده چي مولوي صاحب خالص اومولوي صاحب محمدنبي په افغانستان کي دلوي حساب وړپوځي تاثیر او حضورته لري ،مګر ددوو درنو اوسپین ږیرو جهادي شخصیتونو اومشرانو په توګه ئي په مسایلو کي له وزن څخه هیڅ راز انکارنشي کیداي .

په همدي ترتیب مشرقي شوري هم یودحساب وړ قوت دي، که کابل اداره دهغې په بې طرفه ساتلو بریالي شي، داورته مهم حرکت دي . څکه ددي شوري دبې طرفه او آرامه پاتي کیدو ، معنی داده چي دکابل اداره دفعالیت لپاره به یکي دفعالیت میدان خلاص وي اوکه خداي (ج) مکړه کوم کرکیچ یکي رامنځ ته شو هم ، نظارشوري تري دګټي پورته کولو خیالونه لري دلته داخبره هم دیادولو وړده چي څیني داسي نښاني لیدلي کیږي چي بعضي مهموبهرنیوطاقتونو هم په دي باره کي خپله دلچسپي کمه کړي چي په اوسنیو شرایطوکي دکابل اداره دمخالفینو له خواچپه شي، دي مسئلي دکابل مسئولین دسیاسي مانورونو او پوځي مقاومت کولو ته تشجیع کوي .

فعلاً اوضاع داسي ده چي استاد«سیاف » به د«شمشاد » له ناستو ولاړو نه کومه دپام وړنتیجه ترلاسه نکړي، څکه دا ذهنیت لا په قوت موجود دي چي کابل اداره هغه «بیړي» ده چي هره شیبه ئي دډوبیدو خطرموجود دي نوپه داسي بیړي کي سپریدوته څوك زړه نه ښه کوي .

په دي برسیره دکابل دښاغلیودبدعهدي، په لوړه باندي دنه دریدو، اودموسمي اومقطعي روشونوماضي، داسي ده چي په اسانه وریاندي باورنشي کیداي . دوي اوس هغه تاکتیك رامخي ته کړي چي یاپه عین شکل اوډبني په بدلون په وارواړ ازموبل شوي دي .

مګر دانقطه باید په پام کي ونیوله شي چي که مخالین په یوه موثر ابتکارلاس پوري نکړاي شي،څیني ښاغلي دمعقولیت بیودلوته چمتونشي اوپه هواکي دلامبو وهلو خیالونه پرینږدي ،دکابل اداري دڅینومانورونو دداسي نتیجي احتمال نشي ردیدلاي چي یوواري بیا بویدشاګومه پیچلتیا رامنځ ته شي .

چرا باآوردن مجددظاهرخان مخالفت میورزیم ؟

حامد

دیروز اعلامیه رسمی حزب اسلامی افغانستان مشعر بر مخالفت با بقدرت رسانیدن مجدد ظاهرخان درکابل، منتشرگردید .

درین اعلامیه باالفاظ صریح بیان شده است که مطرح ساختن مجدد ظاهرخان ،بعوض اینکه قضیه افغانستان رابه حل نهایی نزدیك بسازد، اوضاع راپیچیده تر میسازد. مطرح ساختن مجدد ظاهرخان ، علاوه برآن که مسئله را ازمرحله حل بیرون میبرد ،قطعاً مقدمه ای خواهدبود برای آغاز دورجدیدی ازجنگهای بی مفهوم داخلی که هیچ نوع منفعتی ازآن برای ملت مظلوم و رنجکشیده، مسلمان افغان متصورنیست .

علی الرغم وجودصراحت درهرفراز ازاعلامیه مزبور ،عده ای ازدوستان این موضع راغیرقابل توجیه خواندند . این دوستان پرسشی به اینگونه مطرح میسازند که به فرض اینکه ظاهرخان وارد صحنه گردانیده شود، چه ضررآنی متوجه حزب اسلامی خواهد گردانید؟ از نظرایشان، بازنده اصلی درین جریان، حزب اسلامی نه بلکه اداره غیرقانونی کابل خواهد بود.

ازآنجاییکه ،مطرح گردانیدن مجدد ظاهرخان باواردصحنه گردانیدن مجدد وی ، هیچ نوع خطرآنی ومستقیمی متوجه حزب اسلامی نمی گرداند؛ لذا، بگفته این دوستان حزب اسلامی بعوض اتخاذ موضع مخالفت باقورمول آوردن ظاهرخان، سیاست سکوت را درپیش بگیرد .

درپاسخ به این دوستان ، نگارنده خودراناگزیربه تذکار نکات آتی میداند ؛

مخالفت حزب اسلامی افغانستان با آوردن مجدد ظاهرخان ،نباید مخالفت باوی منحیث شخصی بنام محمدظاهرخان ولدمحمدنادرخان تلقی گردد. وقتی این همه خارجی وبالخصوص خارجیانی که دستهای شان تا مرافق بخون افراد ملت مسلمان ومظلوم مارنگین است ، آزادانه وبدون ویزه وپاسپورت وحتی اطلاع قبلی وارد افغانستان میگردند، چراباید مانع آمدن فردی شدکه ظاهرخان ولدنادرخان نام دارد وگرچه متولد دیره اون هندوستان است، دارای ملیت افغانی وبالاترازآن سابقه سلطنت نیزهست؟

اگر شعارهای احساسات برانگیز خودراکنارگذاشته وتجارب سالیان پاررا درنظرگرفته ودرتحلیل اوضاع وبحران کنونی حاکم برکشور اند کی غورومداقه کنیم ، به سهولت میتوان به این نتیجه گیری رسیدکه باآوردن مجدد ظاهرخان به افغانستان ،بعوض اینکه مسئله پیچیده افغانستان به حل نزدیك شود، بحران پیچیده تر وبغرنجترخواهد شد .

شکی نیست بحران کنونی حاکم بر افغانستان ، دراثرانحصار طلبی این گروه وعدم تنازل آن گروه ازموضع بزعم خودش اصولی خود، ابعاد جدیدی یافت . اما، چه کسی ازین واقعیت ثابت میتواند انکارکند که بحران کنونی دراصل زاییده دوره حکمرانی فردی است که ظاهرخان نام دارد، درریشه یابی عوامل زایش بحران کنونی، هرفرد منصف به این نتیجه میرسدکه بیشترین مسئولیت وسهم ازآن ظاهرخان است .

دوره حکومت ظاهرخان راشاید بتوان بظاهریکی ازآرامترین دوره های طول تاریخ پرتلاطم افغانستان خواند، پس ازحکومت احمدشاه بابا ، درعصرکدام سلطان وپادشاه افغانستان باندازه دوره ظاهرخان ازآرامش برخورداربوده است؟

درعصرهیچ سلطان وپادشاه ،حکومت مرکزی افغانستان ، به اندازه عصر ظاهرخان برقلمرو جغرافیایی افغانستان مسلط وحاکم نبوده است . پس از احمدشاه بابا، اوامر هیچ یك ازشاهان افغان، به اندازه فرامین ظاهرخان لازم الاجرا نبوده است . درعصر سلطنت مشت آهنین عبدالرحمن خان نیز، نه تنها نقاط دوردست افغانستان بلکه در ۷ کیلومتری مرکز قدرت عبدالرحمن ،نیز شورشهاوقیامهای علیه وی صورت گرفته است . اما، درطول دوره سلطنت تقریباً چهل ساله ظاهرخان، صرفاً چندقیام باشورش صورت گرفت که دراسرع وقت و بدلیل حاکمیت وتسلط تام رژیم، سرکوب گردید .

اما، ظاهرخان علی الرغم برخورداری ازفضای آرام افغانستان نتوانست ازبروز جریانات تجزیه طلبانه واشوب طلب جلوگیری کند . درحالیکه در رژیم ٤٠ ساله ظاهرخان ،هیچ فرد افغان حق نداشت که بصورت رسمی ازامان الله خان یادکند، ظاهرخان نتوانست یانخواست ازاشاعه فسادوایدئولوژیهای الحادی وضد وحدت ملی جلوگیری کند. درحالیکه ازلحاظ فساد مرکز شهرکابل با مراکز کشورهایی چون فرانسه وانگلستان رقابت میکرد، دریك کیلومتری ارگ سلطنتی یعنی در ریکاخانه، بودند خانواده هایی که استطاعت ابتیاع برنج عقب مسجد پل خشتی راکه دراصل پس مانده غذاهای درباریان می بود، هفته ای یك بار هم نداشتند .

ظاهرخان که در فضای آرام برای کشوریکه حدود نیم قرن بخوش وخودش برآن حاکم بودند، نتوانست مصدرخدمتی گردد، امروز درنجات کشور ما ازین بحرانی بس بغرنج ، چه کاری ازوی ساخته است ؟

چه کسی میتواند منکراین واقعیت مسلم باشدکه دربار ظاهرخان اولین وبزرگترین محلی تربیه، رشد وحمایت ازکمونستان وجریانات چپی درافغانستان بود؟ وقتی همین کمونستان روسها را به افغانستان دعوت کرده وافغانستان رابه آنان تقدیم کردند، ظاهرخان حتی یك جمله هم درمذمت و محکومیت مسکو و حتی کمونستان افغان برزبان جاری نساخت . افراد همین ملتی که درحاکمیت پنجاه ساله آل یحیی ، ظلم واستبداد ازنوع سدی وقرون وسطایی برآن روادانشته شد، دربرابر کمونستان داخلی واردوی سرخ حامیان روس شان مقاومت کرده وباتقدیم حدود دوملیون شهید، کشور شانرا آزاد کردند . درطول این جهاد، ظاهرخان برای کدام شهید افغان فاتحه ای خواند؟ برای کدام بیوه ما کمپل یاچادری فرستاد؟ اشك کدام یتیم افغان راپاك کرد؟ درایامی که ملت باایثارجان های عزیزانشان، بلست، بلست خاك این کشور را آزاد میکردند ، ظاهرخان درجزیره ایتالیا مصروف گرفتن حمام آفتابی وگلهای درمانی بود. کدام وجدان سالم می پذیردکه زمام امور چنین کشور وچنین ملتی به فردی چون ظاهرخان سپرده شود تاکسی بتواند بحران راحل کند. ما یقین کامل داریم حلقاتی که دوباره ظاهرخان رامطرح میسازند درجهت براي تداوم خونریزی درافغانستان کارمیکنند.

این حلقات اگرراستی خواهان حل قضیه افغانستان هستند، چرا به نظرات وطرحهای گروههای ذیدخل موجود درصحنه مراجعه نمی کنند؟

گروه طالبان پس ازآزاد سازی یاتصرف پانزده ولایت وسیع افغانستان وجمع آوری آن همه اسلحه ومهمات وبسیج امواج انسانی واین همه جنگ اعصاب ، تاحال نتوانسته است کمربند دوم امنیتی رژیم کابل را بشکنانند . درین شرایط ازظاهرخان چه کاری ساخته است ؟

مدافعان کابل حاضر نیستند به طالبان که بدون شك توانسته اند در بخش اعظم مناطق تحت کنترول شان امنیت را حاکم گردانند و داعیه تشکیل حکومت اصیل اسلامی را بلندکرده اند، قدرت رامنتقل کنند. آیا آنان حاضرخواهند بودقدرت رابه ظاهرخان بسپارند ؟ آیا حامیان اعاده نظام ظاهرخان ازین واقعیت ملموس، مشهود موجود درصحنه بی خبراند ؟

بار دیگر باید گفت که این حلقات بامطرح ساختن مجدد ظاهرخان ،جز طویل ترساختن جنگ وپیچیده ترساختن بحران ، هدف دیگری ندارند.

درشرایطی که طالبان دردروازه های کابل قراردارند، در شرایطی که امید میرود امروز یافردا شاهد تشکیل جبهه وسیعی از همه مخالفین اداره کابل اعم از شورای هماهنگی وطالبان باشیم ، بامطرح ساختن مجدد نام ظاهرخان چه هدفی جز تقویت مورال مدافعان کابل ،تضعیف احتمال تشکیل یك جبهه وسیع ازمخالفین اداره کابل و بالاخره جز انحراف اذهان طالبان نشسته درسنگرودرنهایت تضعیف مورال طالبان ، چه هدفی مطرح نظراست !

حال دویلو لایق ندی

پټ راز

میوند

له افغانستان نه دروسی پوځونو دوتلو پروخت یوه روسی جنرال ویلی وو : « دادی موږ له افغانستان نه وځو خوافغانستان خاوره به لس کاله نوره هم له افغانانو سره جنګیږی . »

هغه وخت څوك پوهیدل چی دروسی جنرال په دغه یوه خبره کی څومره ستر رازپټ دی .

هغه وخت مطبوعاتو هم داخبره ډیره واړوله راواړوله خو هیچا هم دغه پټ راز ونشو موندلی چی لس کاله نور جنګ دڅه لپاره او ولی ؟

مطبوعاتو دروسی جنرال داخبره داسی تعبیرکړه چی روسانوپه ملیونونو ماینونه دافغانستان په بیلا بیلو برخو کی ښخ کړی او هیواد ته دمهاجرینو په بیرته ستنیدو او دژوندنیو چارو ددوام په جریان کی ددغو ماینونوچاودنی اوله دی ارخه دمرګ ژوبلی معنا هم داکیدای شی چی له افغانانو سره به یی خپل وطن اوخاوره جنګیږی اولس کاله به دالړی دوام پیداکړی.

زموږ دهیواد دسیاسی چارو یوه خبرونکی هم پدی اړه هغه وخت یوه اوږده مقاله خپره کړه او پدی یی ټینګار کړی و چی په افغانستان کی دماینونو دله منځه وړلو په اړه بنایی یو داسی کمپاین په لاړ واچول شی چی نړیوال حیثیت ولری که داسی ونه شی نو دروسی جنرال په وینا به لس کاله نور هم افغانان له خپل وطن سره په جګړه کی وی اود روسانو په ځای به ماینونه له افغانانو سره په بله بڼه یو بل دول جګړه پرمخ بیایی او دافغانانو دمرګ ژوبلی سلسله به جاری وی.

خوکیدی شی خبره بل دول وی که څه هم داتعبیر له حقیقت نه ډیرلیری نه ښکاری خو کوم راز چی دروسی جنرال په سینه کی پټ ؤ هغه په دومره آسانی بنایی خوك رابرسیره نشی کړی . یواځی یو پټ راز نه بلکی دروسانو د پالیسی او پلانونو یو داسی جهت چی له مخامخ جګړی پرته هم هغه څه ترلاسه کړی شی چی غوښتی یی او یا یی هم دمخامخ جګړی په جریان کی ترلاسه نشوای کړای په بله وینا خپل تیری ته د نوی رنګ اونوی بڼی په ورکولو سره بی له دی چی له نړیوالی ملامتیا اوزیاتو تاوانونو سره مخامخ وی ، خپلو مقاصدو اواهدافو ته د رسیدو لار پرانیستی وساتی.

روسی جنرال ریښتیا ویلی وو دوی په افغانستان کی داسی اورکړلی چی تر تن څه خدای (ج) خبر څومره پوری به یی افغانان پخپلو لمبوکی رانغښتی وی . له غوړول شوو میننو ډیر خطرناك اوتباکوونکی داسی اورچی یواځی انسانی اومالی تاوانونه نه بلکی دافغانانو تاریخ ،ثقافت ، کلتور اوفرهنګی میراث اومعنوی ارزښتونو ته یی هم خوله خلاصه کړیده . اوافغانان یی پخپلو منځوکی په یوداسی جګړه کی ښکیل کړی چی زیانونه یی دروسانو سره له جګړی هم زیات دی .

روسان له افغانستان نه ووتل خودتیری اولاسوهنی لاریی هماغسی پرانستی ده جګړی له پخوازیاته تبلکوونکی بڼه نیولی ده او هغه څه چی د پخوانیو جګړو له اورو-نو روغ پاتی و هغه دروانو جګړو لمبو ایری ایری کړل.

روسی جنرال یوه سنجول شوی پلان ته په اشاره کولو هغه څه ویلی و چی موږ یی په حقیقت ډیر وروسته پوه شوو . روسی لښکری چی له افغانستان نه وتلی نو هغوی دوی لاری دځان لپاره داسی پرانستی ساتلی وی چی دتیری اهداف یی هماغسی خوندی ساتل‌ګاو په سیمه کی یی دموجودیت اوفعالیت چانس ورته مساعدوی .

روسانو دخپلو پوځونو له ایستلو وروسته دنجیب رژیم داحتمالی سقوط په صورت کی دداسی یوه بدیل غم لادوخته خوړلی ؤ داسی بدیل چی هم تری دخپلو اهدافو دتحقق کارواخلی او هم افغانان ددی وخت اوفرصت لاس ته رانه وړی شی چی دجهاد دمقاصدو په ترسره کولو کی بریالی شی.

دجګړو ، مرګونو ، اورونو او ویرونو سلسله دوام ولری او افغان ولس دجګړی اوتباهی په یوه بل ګرداب کی ښکیل شی .

له همدی ځایه وه چی روسانو احمدشاه مسعود دهغه د ځانګړو ځانګړتیاوو اونفسیاتی مطالعاتو له مخی ددغسی یوه بدیل لپاره په پام کی ونیو او له اوږ بند راواخله دجبل السراج تر ائتلافه یی دا مزل قدم په قدم په ډیر مهارت وواهه . اوددغی لری له هر قدم نه یی پخپل ځای خپل وخت اوخپل وار ډیره ګټه تر لاسه کړه . دسالنګ لاریی دنوروسیمو دخپلو لپاره پرانیستی وساتله اوهمدغه وړدهیواد په نورو برخو کی یی دمقاومت دټکولو لپاره نه چانس ، فرصت اوموقعیت وموندلی شو.

دملګرو ملتونو دوروستیو هلو ځلو دسبوتاژ په اړه دجبل السراج ائتلاف رامنځ ته کیدلوپه سوله ایزه توګه دقدرت دانتقال پروسه داسی شنده کړه چی له هماغه وخته دیوی بلی خونړی جګړی اودروسی جنرال په وینا دولسو کلونو لپاره له خپل وطن سره دافغان ولس دجګړی لمبی ژیغراندی شوی اودادی نږدی څلورم کال ته رسیږی .

د ژبی ، ملیت ، مذهب اوقوم په نوم دجنګولو هغه هڅه اوتوطیه چی دببرك اونجیب پروخت هم روسان پری نه وو برلاسی شوی هغه هیله یی داحمدشاه مسعود په وجودکی په اصطلاح داسلامی دولت په جوړیدو ترسره شوه .

دااستعمار زړه پالیسی اوپخوانی عادت دی چی له مستعمرو څخه دوتلو په صورت کی هم څه داسی حالات رامنځ ته کوی چی ولسونه دآزادی له نعمت نه هغسی ګټه اوخوند وانه خلی لکه چی بنایی .

پدی توګه داسی لانجی اوکشالی هلته رامنځ ته کړی چی کلونه کلونه دبی ثباتی ، جګړو او دړیدریو عوامل فعال وساتلی شی.

چیرته دبنګال په نوم یوغیر طبیعی ویش ، چیری دکشمیر او یا هم دپښتونستان په نوم داسی ربړی اوکشالی ولسونو ته پریږدی چی عمرونه عمرونه دیوه سرخوږی او سیاسی ، ټولنیز اواقتصادی زیری په توګه دهغوی دپرمختګ اواړیکو لپاره دیوه ګواښ حیثیت لری روسانو هم له همدغسی زړی نسخی نه په استفادی سره داحمدشاه مسعود په واسطه داسی اور په افغانستان وګاره چی تراوسه اوخدای خبر لاترکومه به یی مظلوم افغانان په لمبو کی سوځیږی.

ائتلافونه اوددغو ائتلافونو لپاره لادمخه دجبهتونو ، دلو اوقوتونو برابرول ددغسی یو بل لس کلن جنګ دسونګ دموادو و چی روسانو لادمخه برابر کړی وو او دروسی جنرال په وینا افغانان به لس کاله نور هم له خپلی خاوری او وطن سره جنګیږی ، چی دادی جنګیږی .استعمار کولی شی چی دخپلو لیری نقشو او پلانونو دتطبیق لپاره څنګه څیری انتخاب کړی ، څه دول یی یو له بل سره وتړی څه ورڅی استخدام کړی اوڅرنګه یی ولوبوی اومطلوبه نتیجه تری واخلی .

که څه هم ددغو څیرواودلو انجام معلوم دی خو داقتدار هوس یی داسی ړانده اوکاڼه کړی چی دبیرون په ټولو صحنو او پردو یی سترګی پټی شی .

موږ ریښتیا هم چی ظاهر بین یو موږ همیشه دڅیری په ظاهری اړخ خاتونه ستړی کړی اووختونه موضایع کړی ، چانسونه مو له لاسه ورکړی او دحالاتو نزاکت موډیر لږ په پام کی نیولی دی . پداسی حال کی چی حالات اوڅیری مواقف او دریځونه هغسی نه وی لکه چی موږ یی اورو یا یی وینو دی ته دسر نه دزړه په سترګو کتل په کار دی . الله تعالی دی زموږ دزړونو سترګی روښانه کړی.

رااسره دی لباسونه رنګ په رنګ
بدلوم کله جامی کله آهنګ

ص(٤)

یکتن ازنیروهاي استادرباني درسنګرش دربیني حصار

نصرت منه دحضرت سلمان فارس (رض) په جومات کی :

دمنکراتو دمخنیوي په باب دعالمانویوه غونده جوړه شوه

نصرت مینه - دلوم ٥ مه .

دنصرت مینې دحضرت سلمان فارس (رض) په جومات کي دنصرت مینې دجوماتونوامامانو اوعالمانو په ګډون دمنکراتو اوناروا اعمالو دمخنیوي او ښځو لپاره شرعي حجاب دمراعات په باب یوه غونډه جوړه شوه .

له نصرت مینې څخه دشهادت خبریال خبروګر ... غونډه وروسته له غرمې دځوړ... آیاتونو په تلاوت پیل شوه وروسي ډګروال خان محمد خان ، محترم مولوي محمدحنیف، محترم مولوي خلیل الرحمن صاحبزاده ، دنصرت مینې دجامع جومات خطیب محترم مولوي شیرآغا اومحترم مولوي حمدالله پخپل وار دموضوع په اړوند عالمانه خبري وکړي ، اودمنکراتوڅخه دمخنیوي په کارکي یې دنصرت مینې له اوسیدونکوڅخه دهمکاري غوښتنه وکړه .

دغه غونډه دمحترم صاحبزاده خلیل الرحمن په اختتامیه دعا پای ته ورسیدله .

دځاځیودحسن خیلو په ولسوالي کي د وړور حکمتیار دوینا متن :

افغانان باید داثابته کړی چی دهغوی سریواځی الله (ج) ته ټیټیږی بل چا ته نه تسلیمیږی

قسمت دوم

بله مهمه خبره داده چی هغه به حکم ماانزل الله کوی د خپل هوا اوهوس مطابق به فیصلی نه کوی، خدای (ج) چی څه حکم کړی په همغه به عمل کوی، چاچی په هغه څه چی الله (ج) نازل کړی حکم ونکړ قرآن فرمایی هغه حاکم فاسق او ظالم دی، که هغه قضاوت کوی خامخا به له هغه نه ظلم کیږی، هغه به خامخا حق پټوی، له هغه نه به خامخا فسق اوفجور کیږی، په همدی وجه هغه مکلف دی چی په ماانزل الله (ج) به حکم کړی هغه مکلف دی چی په قوم کی به الهی عدل تامینوی، خلك به برابر ګڼی، یوقوم به په بل قوم غوره اوبهتره نه ګڼی. الله پاك فرعون اوفرعونی نظام په باب فرمایی چی هغه قوم په ډلو، ډلو ویشی، یوه ډله دامتیازاتو نه برخمنه اوبله ډله مظلومه او ترستم لاندی، دافرعونی نظام خصوصیات دی. قرآن فرمایی چی فرعون قوم په ډلو، وویشه، هغه ډله چی ضعیفه یې ګڼله، بیچاره اومظلومه وه، دهغوی زامن یې ووژل او لوڼې یې ژوندی پرېښودی چی دوینځو په شان یې په دربارونو کی خدمت وکړی، هغه به الهی عدالت تامینوی، خلك به برابر ګڼی داسی نه چی یواځې د پنجشیریانو اوبدخشانیانو حکومت جوړکړی، او بیا دنورو په باب وایی چی پښتنو دوه نیم سوه کاله حکومت کړی. له دی نه بعد الفیتونه تیار نه دی چی دهغوی حکومت ومنی، مسلمان زعیم داخبره نه کوی، هغه داسلام خبره کوی، هغه خلك برابرګڼی، هغه په دی باور دی چی داټول خلك، یوه خدای (ج) پیدا کړی، دهغوی خالق یو دی، له یوه مور او پلارنه پیداشوی له آدم او حوا نه پیداشوی.

ټول وروڼه دی او برابر دی، اسلام داخبره کوی همداراز اسلامی زعیم مکلف دی چی په قوم کی امنیت راولی، دهغوی سراومال به خوندی کوی، دظالم لاس به قطع کیږی، دمظلوم به مرسته کیږی او دچاسر اومال ته به خطر نه وی متوجه، همدارنګه هغه به الهی حدود جاری کوی، الهی احکام به نافذوی، څه چی الله (ج) حلال کړی وی په هغه اجتماع کی به هغه حلال وی، حکومت به دهغه تر شاولاړوی، څه چی خدای (ج) حرام کړی هغه به په دی اجتماع کی حرام ګڼل کیږی اودولت به دهغه مخالفت اومقابله کوی، داسلامی نظام بنیادی خبری همدا دی کوم امیر چی عدالت تامین نشی کړای، امنیت رانه وستلای شی، په دی قادر نه وی چی حدود جاری کړی بما انزل الله باندی حکم ونشی کړای، دهغه امارت مسلم نه دی، نه یواځی مسلم نه دی بلکه اسلام حکم کوی چی داسی امیر به عزل کوی پرمسلمان واجب ده چی هغه لری کړی په ځمکه کی ته دخدای (ج) خلیفه یی ته

دالله (ج) ددین په قائمولو باندی مکلف یی لکه لمونځ چی په تافرض دی همداراز په تاباندی دالله (ج) ددین دقائمولو له پاره جهاد فرض دی.

وروڼو! له دی نه تاسو قیاس کولی شی، په ټول قرآن عظیم الشان کی یو آیت داسی دی چی فرمایی: یا ایهاالذین آمنوا اذا نودی للصلوٰة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکرالله وذروالبیع ذالکم خیر لکم ان کنتم تعلمون.

ای مؤمنانو چی کله دجمعې په ورځ آذان واوری نو خرید اوفروش اوسودا پریږدی اودالله (ج) دذکرطرف ته عجله وکړی. په سرعت سره جوماتو ته ولاړشی دالله (ج) دذکراولمانځه لپاره، داستاسو له پاره غوره دی که پوهیږی.

ګوری تاسو ټولوخپله سودا اوتجارت پری ایښی دی جوماتو کی راغونډ شوی یاست یو آیت دغسی دی خو که مبالغه ونشی په هره صفحه کی دجهاد په باره کی یو حکم دی داسی چی ته به په مال اونفس دخدای (ج) په لاره کی جهاد کوی، الله (ج) دجنت په بدله کی ستامال اونفس اخیستی دی، که ته په خدای (ج) اوآخرت ایمان لری خامخا به دالله (ج) په لاره کی وځی، دروند سپك، ضعیف، قوی، ځوان، زوړ، ټول دی دخدای (ج) په لاره کی ووځی، په راز، راز الفاظو، په ګڼ شمیرځایونو کی الله (ج) تاته امرکوی چی دخدای (ج) په لاره کی ووځه اوحتی فرمایی چی څوك په خدای (ج) او په آخرت ایمان لری هغه باید له جهاد نه شاته پاته نشی هغه به بهانه ونکړی، تاته به عذروړاندی نکړی، له تانه به اجازه ونه غواړی اویواځی به هغه څوك له تانه ای پیغمبره اجازه غواړی چی په خدای (ج) اوپه آخرت ایمان نه لری، انما یستاذنك الذین لایؤمنون بالله والیوم الاخر وارتابت قلوبهم فهم فی ریبهم یترددون.

خبره داده بله نه ده چی ای پیغمبره له تانه به فقط هغه څوك اجازه غواړی چی په جهاد کی شرکت ونکړی، اوخپل کار کی مصروف شی چی هغه په خدای (ج) ایمان نه لری په زړونو کی یی شك دی او په خپل شك کی سرګردانه دی.

پراځې داکسان د جهاد نه ووه کوی، له دی نه تاسو قیاس کولی شی چی الله پاك په جهاد باندی څومره تاکید کړی دی او دجهاد څومره اهمیت دی ته دالله (ج) له لوری ته په دی باندی مکلف شوی یی چی دخدای (ج) ددین دقائمولو له پاره به جهاد کوی.

داوالله (ج) سره دمسلمان وعده ده، په دی باندی مسلمان دخپل رب سره وعده کوی.

وروڼو! په دی باندی باور ولری چی انشاءالله الله پاك به زمونږ دهیواد روانی ستونزی اوکړاونه ختموی، په افغانستان کی به اسلامی حکومت جوړیږی اودفتنی اوابتلا دادوربه هم ختمیږی، ممکن نه دی چی دخدای (ج) په لاره کی تویې شوی وینې ضایع شی، ممکن نه دی چې دالله (ج) په لاره تویې شوی خولی بی ثمایه ولاړی شی اوهغه قدمونه چی دخدای (ج) په لارکی اوچت شوی هغه دی هدر لاړ شی، داامکان نه لری دلته یونیم میلیون افغانان په شهادت رسیدلی، خدای (ج) خبر چی له دی جملی نه به څومره کسان داسی وی چی له الله (ج) سره یی په دی باندی تعهد کړی وچی خپل سر به دهغه په لاره کی وقف کوی.

او په همدی شکل اوامید سنګرونو ته تللی وو په همدغه اخلاص صداقت راولاړ شوی ملاټری تړلی. څنګه ممکن دی چی ددومره مخلصو شهیدانو وینی دی هدرولاړی شی.

حتماً به په افغانستان کی اسلامی حکومت جوړیږی مشروط په دی که مونږ یی همتی ونکړو، مایوس اوبی صبره نشو، کومه لار مو چی انتخاب کړی له دی نه بی لاری نشو.

وروڼو! که دخدای (ج) په لاره کی کوم قوم جهاد پریښود الله پاك یی خامخا ذلیل کړی، بنی اسرائیلو هم په موسی علیه سلام ایمان راوړ، دفرعون مقابلی ته چمتو شول دزامنو شهادت یې ومنلو، موسی علیه السلام سره یو ځای هجرت ته تیارشول. الله پاك د هغوی په لاس فرعون غرق کړ او هغوی ته یې دځمکی خلافت اودفرعون دټولو

شتمنیووراثت وریه برخه کړولی پس له څه مودی، دموسی علیه السلام په ملګرتیاکی ستړی شول او چی موسی علیه السلام ورته وویل دغه ښارته داخل شی چی څنګه داخل شوی ستاسو په لاس به فتحه کیږی، هغوی ورته وویل چی ته او رب دی ولاړشی وجنګیږی مونږدلته ناست یو، جهادنه ستړی ستومانه شول اوالله پاك هم دهغوی په باب فیصله وکړه، د ذلت فیصله، دلوری او دمسکنت فیصله اوپه ځمکه کی دحیران ګرځیدلو فیصله! څلویښت کاله نورهم هغه ښارته داخلیدل په هغوی باندی حرام کړی شول، څلویښت کاله نورهم هغه ښارته له داخلیدونه محروم پاته شول بیاچی کله په هغوی کی دجهاد روحیه راژوندی شوه دیومجاهد قاید اورهبرپه څنګ کی راغونډ شول الله پاك دوباره هغه ښارهغوی پسه لاس فتح کړ، داوالله پاك سنت دی، کوم قوم چی په اخلاص سره دالله پاك لاراختیار کړه خدای پاك ورته فتح اوبری ورکوی، عزت ورکوی، الله پاك ددی ذمه واردی چی هغه به دځمکی خلیفه وی، هغه به دقوموټوله پاره امام، رهبر اوپیشوا وی، دځمکی دټولو شتمنیووارث به وی. داوخدای (ج) وعده ده هغه خدای (ج) چی په خپله وعده کی رښتونی دی اوچی کله ئی هم دخدای (ج) په لارکی جهاد پریښود بیابه ذلیل وی اوبیا به پردی وریاندی مسلط کیږی. داوخدای (ج) سنت دی.

که افغانانو دجهادلاړپریښودله او ترهغه وخته پوری چی په افغانستان کی واقعاً اسلامی حکومت نه وی قائم شوی هغوی ملاخلاصه نکړه همداسی ملاټړلی پاته شول دادخدای (ج) وعده ده حتماً به په افغانستان کی اسلامی حکومت قائمیږی په افغانستان کی اوپه ټوله نړی کی.

وروڼو! کله چی سړی داخبره کوی دیوته داښالله معلومیږی، دلږی خبره، لوی لوی خبره چی څوك کوی وړو، وړو خلکوته داښالله معلومیږی، دهغوی ذهن ئی نشی برداشت کولی، ولی څوك چی په لوی خدای (ج) ایمان لری هغه ته خدای پاك لوی همت ورکړی اولوکه، لوکه کارونه هم ورته دیرآسان معلومیږی.

وروڼو! پیغمبر علیه السلام چی مدینی منوری ته هجرت کوی پس له دیارلسو کلونودعوت نه دهغه دیرلږ مجاهدو ملګرو شمیر څومره و؟ ۳۱٤ کسان چی دبدر په جنګ کی یی دلږی خل له پاره برخه اخیستی دیارلس کاله مسلسل دعوت "یوپیغمبر په لاس دعوت بیاد محمد علیه السلام په شان پیغمبر په لاس دعوت، هغه دومره کسان ورزولی شوچه، شمیرئی دیارلس سوه او څوارلس کسانوته رسیده خوپه مدینې کی مهاجر، ستاد احسن خیل دمدینی څوبرابره دی دهغه وخت دمدینی څوبرابزدی، حسن خیل دځمکی له لحاظه اودخلکوله لحاظه دهغه وخت دمدینی منوری څوبرابره دی، خوهغه کسان چی مدینی منوری کی دمدینی په هغه وړوکی کلی کی اوسیدل دختوکلی کی ستا کلی اوس دیرپیشرفته دی هغه ویل چی داټوله دنیازمادرب ملك دی اوپه دی کی به دالله (ج) دین حکومت کوی، هغه چین ته تللی شهیدشوی، هغه ماوراالنهر کی شهیدشوی هغه په هند کی جنګیدلی، هغه په کابل کی جنګیدلی، هغه په افریقا کی جنګیدلی، هغه په اروپا اوهسپانیاکی جنګیدلی، یوګوسلاویا پوری رسیدلی، هغه یواځی په دی باندی اکتفا ونکړه چی عرب دهغه په لاس آزاد شو، هغه ویل ئی چی داټوله دنیا زمادخدای (ج) ملك ده دلته به زما دالله (ج) دین حکومت کوی، هغه ته خدای (ج) دومره لوی عزم ورکړی وو اوهمدومره ستر، سترکارونه خدای پاك دهغوی په لاس ترسره کړل، دچاچی اراده لویه وی خدای پاك دلویو، لویوکارونوتوفیق ورکوی، دچاچی ارمان وو روی خدای پاك ئی له همغه واړه آرمان سره پریږدی. ذلیل اوسپك وی، دلویو لویو کارونو تصورنشی کولی، خدای (ج) خبرچی پیغمبر علیه السلام دیارانوشمیر به څه وخت دومره ته رسیدلی چی په دی جومات

کی اوس راغونډیږو پس له څوکلونه ولی پیغمبر علیه السلام سره دا عزم اواراده وه چی په دنیا باندی به دهغه دین حکومت کوی

